
# د درنو مشرانو ، عالمانو او پوهانو ژورې خبرې



ليکنه او ټولونه: اروابښاد ميرزا علم حميدي

ترتيب کوونکی: انجنير عبد القادر مسعود





ترتيب کوونکی: انجنير عبد القادر مسعود

اروابښاد ميرزا علم حميدي



## اروانښاد میرزاعلم حمیدي د پښتو د معاصر ادب هوډمن، تکړه لیکوال، ادیب، ژباړونکي او شاعر

زموږ په هیواد کې د تاریخ په بیلابیلو پړاوونو کې د ادبي، فرهنګي او سیاسي حالاتو، د ټولنیز او انساني ژوند مختلفو پیښو او حوادثو زموږ پښتنانه له پښتو ادب او هنر له رنګینې نړۍ څخه لرې ساتلي وو، خوبیا هم زموږ لیکوالو او شاعرانو د خپل استعداد او ریاضت په هڅو د ویاړنې، سربښندنې، میړانې او تل پاتې اتلولۍ تر څنګ دا ثابته کړې ده، چې دوی د افغانانو د حقوقو په دفاع کې ټینګه او نه پخلا کیدونکې مبارزه کړې ده او په دې لاره کې یې هر ډول ستونزې، کړاوونه، ستړې ستومانې زغملي دي او د خپل قلم، علم او لوړو خیالونو او فکرونو په وسیله یې د علم، ادب او هنر ډیوې روښانه او ځلانده ساتلې دي. یو له دغو نومیالیو او نوښتګرو لیکوالو او شاعرانو له ډلې څخه اروانښاد میرزا علم حمیدي وو. دی د پښتو ژبې پیژندل شوې، پر هیواد او هیوادوالو مین لیکوال، غښتلې ژباړونکې، با احساسه ادیب او تکړه شاعر وو.
اروانښاد میرزا علم حمیدي د عبدالحمید زوی وو. دی پر(۱۳۲۰) لمریز کال د زمري میاشتې پرشلمه نیټه د خوست ولایت د اسماعیل خیلو قوم د (ډډوالو) په کلي کې زیږیدلی دی. ده خپلې لومړۍ زده کړې پر (۱۳۳۳ل) کال د اسماعیل خیلو او مندوزیو په ښوونځي کې سرته رسولې دي، خو د لوړو زده کړو لپاره کورنۍ ستونزو ورسره یاري نه ده کړې.

حمیدي صاحب له ډیر پخوا څخه د ادب سره مینه لرله او په دې لاره کې یې ډیرې لیکنې د هیواد په بیلابیلو مطبوعاتو، ورځپاڼو، جرایدو او مجلو کې خپرې شوې دي. او همدا رنګه د ده یو شمیر سیاسي لیکنې د ډډوال، ښکارندی، او کلیوال په نومونو هم خپاره شوې دي، خو ده د پښتو ادبي نثر د ودې او پرمختګ لپاره خپلو ژباړو او لیکنو ته نوی خوند او نوی رنګ ورکړ او نوې لاره یې غوره کړه چې د ده هلې ځلې په دې برخه کې د قدر او ستاینې وړ دي.د ده د علمي، ټولنیز، ادبي او فرهنګي آثارو نه یو اثر د ژورې خبرې په نوم یادیږي، چې په دې اثر کې د یو شمیر درنو مشرانو، عالمانو او پوهانو علمي،ټولنیز، اخلاقي، ادبي او هنري خیالونه او فکرونه په ډیر ښکلي او ظریفانه شکل انځور شوي دي.ما د دغې اثر نه یو شمیر ژورې خبرې په انځوریز شکل ترتیب کړئ دي ستاسو د ادب مینه والو پام ورته را اړوم.

په ډیر درنښت او ادبي مینه:انجنیرعبدالقادرمسعود

# اروانښاد میرزاعلم حمیدي د پښتو د معاصر ادب هوډمن، تکړه لیکوال، ادیب، ژباړونکي او شاعر

زموږ په هیواد کې د تاریخ په بیلابیلو پړاوونو کې د ادبي، فرهنګي او سیاسي حالاتو، د ټولنیز او انساني ژوند مختلفو پیښو او حوادثو زموږ پښتنانه له پښتو ادب او هنر له رنګینې نړۍ څخه لرې ساتلې وو، خوبیا هم زموږ لیکوالو او شاعرانو د خپل استعداد او ریاضت په هڅو د ویاړنې، سربښندنې، میړانې او تل پاتې اتلولۍ تر څنګ دا ثابته کړې ده، چې دوی د افغانانو د حقوقو په دفاع کې

ټینګه او نه پخلا کیدونکې مبارزه کړې ده او په دې لاره کې یې هر ډول ستونزې، کړاوونه، سترې ستومانې زغملي دي او د خپل قلم، علم او لوړو خیالونو او فکرونو په وسیله یې د علم، ادب او هنر ډیوې روښانه او ځلانده ساتلې دي. یو له دغو نومیالیو او نوښتګرو لیکوالو او شاعرانو له ډلې څخه اروانښاد میرزا علم حمیدي وو.دی د پښتو ژبې پیژندل شوې، پر هیواد او هیوادوالو مین لیکوال، غښتلي ژباړونکې ، با احساسه ادیب او تکړه شاعر وو. اروانښاد میرزا علم حمیدي د عبدالحمید زوی وو. دی پر(۱۳۲۰) لمریز کال د زمري میاشتې پرشلمه نیټه د خوست ولایت د اسماعیل خیلو قوم د (ډډوالو ) په کلي کې زیږیدلی دی. ده خپلې لومړۍ زده کړې پر (۱۳۳۳ل) کال د اسماعیل خیلو او مندوزیو په ښوونځي کې سرته رسولې دي، خو د لوړو زده کړو لپاره کورنۍ ستونزو ورسره یاري نه ده کړئ.

حمیدي صاحب له ډیر پخوا څخه د ادب سره مینه لرله او په دې لاره کې یې ډیري لیکنې د هیواد په بیلابیلو مطبوعاتو ، ورځپاڼو ، جرایدو او مجلو کې خپرې شوې دي. او همدا رنګه د ده یو شمیر سیاسي لیکنې د ډډوال، ښکارندی، او کلیوال په نومونو هم خپاره شوې دي، خو ده د پښتو ادبي نثر د ودې او پرمختګ لپاره خپلو ژباړو او لیکنو ته نوی خوند او نوی رنګ ورکړ او نوې لاره یې غوره کړه چې د ده هلې ځلې په دې برخه کې د قدر او ستاینې وړ دي.د ده د علمي، ټولنیز، ادبي او فرهنګي آثارو نه یو اثر د زورې خبرې په نوم یادیږي، چې په دې اثر کې د یو شمیر درنو مشرانو ، عالمانو او پوهانو علمي،ټولنیز، اخلاقي، ادبي او هنري خیالونه او فکرونه په ډیر ښکلي او ظریفانه شکل انځور شوې دي.ما د دغې اثر نه یو شمیر زورې خبرې په انځوریز شکل ترتیب کړئ دي ستاسو د ادب مینه والو پام ورته را اړوم.

په ډیر درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود

## ښکلا او هنر:



* ښکلا داسې سپېڅلې میلمه دی چې هر چیرې لاړ شي خلک یې درناوی او عزت کوي. (ګوته)

***

* د ښکلا سره چې سپېڅلتیا نه وي د داسې ګل په شان ده چې عطر او بوی نه لري.

(ویکتورهوګو)

***

* په هر ځای کې چې ښکلا په دعوا لاس پورې کړي د ویاند ژبه ګونګیږي.

(شکسپیر)

***

* د ښځې ښکلا باید د هغې د بدن په تناسب پرتله نه کړای شي بلکه باید د هغې اغیزې ته پاملرنه وشي. (مادام دولامبر)

لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادر مسعود

## ښکلا او هنر:



* ښکلا د لږ وخت ظلم دی. (سقراط)

***

* بې له درنښت څخه د ښځې ښکلا د کب د چنګک په شان ده چې دواړه سرونه یې په تار پورې نه وي نښتي. (امرسن)

***

* لکه څنګه چې سخته لوږه هر ډول ډوډی خوندوره کوي همدا ډول د ځوانۍ یاغي غریزې او مستۍ ته هم هره ښځه ښکلې ښکاریږي. (دشتی)

***

* ښکلا یوه منطقي پیښه ده چې وړوکې یې سترګې، ستر یې زړه او نتیجه یې شور او شوق دی.

***

* د ښځې ښکلا داسې تیره چاړه ده چې د ماشوم په لاس کې وي هم د ده له پاره او هم د نورو له پاره خطرناکه ده. (متل نازی)

ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود

لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي

## ښکلا او هنر:



* ښکلا د سترې دښتې په شان ده چې لاروی په کې سرګردان دی خو هرې خوا ته چې ځي ښکلې جنت به ويني. (هالندی شاعر)

***

* که چيرې هنرمند د خپل هنر له پاره نوي نوښتونه پيدا نه کړي هغه هنر په خپل لاس وژني.

***

* هنر او پوهه د ښه او لوړ ژوند د پيژندګلوۍ وسيله ده.

ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود

ليکنه او ټولونه: ميرزا علم حميدي

## لرغوني نصيحتونه:



* خپله خوله دې ملامت کوي او شونډې په تا شهادت ورکوي.

***

* او به ډبرې سولوي.

***

* د حکمت ارزښت له لال څخه زيات دی.

***

* ژبه دې له بدۍ وساته او شونډې دې له مکر جنو خبرو.

***

* څوک يې چې په او ښکو وکري، په سندرو به يې وريبي.

ليکنه او ټولونه: ميرزا علم حميدي

ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود

## لرغوني نصيحتونه:

* څښتن تعالی له شپږو شيانو کرکه لري بلکه اوه شيان مکروګڼي لکه:

کبرجنې سترګې او درواغجنه ژبه. هغه لاسونه چې د بې ګناه خلکو وينې بهوي. هغه زړه چې د فسادونو، نووښتګر وي. هغه پښې چې د زيان رسولو په لاره کې چټکې وي. هغه شاهد چې په درواغو پيل وکړي او هغه څوک چې د ورونو په منځ کې د بې اتفاقۍ تخم کري.

***

* کم عقل سړی په هره خبره باور کوي خو هوښيار سړی په خپلو کړو کې بيړه نه کوي.

***

* درواغجن سړی نانداري او ګيلې پاشي او ټول دوستان د يوه، بل نه جلا کوي.



ليکنه او ټولونه: ميرزا علم حميدي
ترتيب کوونکی: انجنيرعبدالقادرمسعود

## لرغوني نصيحتونه:

* ښه ښځه د ميړه تاج دی.
* خوشال زړه د تندرستۍ دارو دي خو مات زړه هډوکي وچوي.

***

* کم عقل سړي ته چوپتيا د حکيم ارزښت ورکوي.

***

* چې د لاسه دې پوره وي خپلې ښيګڼې له وړ خلکو مه دريغ کوه.

***

* د حکيم زوی خپل پلار سرلوړ کوي.
* څوک چې د نيکۍ په ځای بدي کوي هغه به هميشه د تورې بلا سره لاس او ګريوان وي.



ليکنه او ټولونه: ميرزا علم حميدي
ترتيب کوونکی: انجنيرعبدالقادرمسعود

## د درنو مشرانو، عالمانو او پوهانو ژورې خبرې:



* ستر سړی څلور صفتونه لري: کميني (خاکساري، تواضع)، ادب، مهرباني او عدالت.
* کبر او کينه د زړو ښو صفتونو مخ توروي.
* د چا سره چې ځان منته او ځان غوښتنه پيدا شي، هغه بربادیږي.
* د ښښنې فضيلت د قدرت په وخت کې مالومیږي.
* کينه د سړي قدر ورکوي، حاسد هر چا ته سپک ښکاري.
* ستر خلک لږې خبرې کوي او زيات عمل کوي.
* ښوونکی بايد څلور شيان ولري لکه: پوهه، ښه کړه وړه، رښتيا او سپيڅلتيا.
* ستر سړی هميشه ارام دی او کوچنی سړی هميشه ناکرار.
* که پوهیږې په خپله خبره ټينګ ودریږه، که نه پوهیږې ووايه چې نه پوهیږم دغه د پوهې ثبوت دی.
* څوک چې خپل ورور ته بربادي غواړي، هغه په زړه کې د اور لمبې غښتلې کوي.
* يو د خپلو ستايلو په فکر کې دی او بل د خپلو غوښتنو. لومړی د خپلې غلطۍ نه ډاریږي او دوهم د خلکو له غوسې نه.

لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي
ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود

## د درنو مشرانو، عالمانو او پوهانو ژورې خبرې:



* پوهه د خلکو پيژندنه ده.
* هوشيار هغه دی چې هميشه په خپل ځان واکمن وي.
* فکر او عقل دوه لوی لوی دريابونه دي. حکمت او پوهه ملغلری دي.
* که غواړې چې ژوند وکړې په ځان کې دې ګرانښت او سپيڅلتيا پياوړې کړه. ځکه چې کينه هميشني مرګ دی.
* څوک چې روغ او سليم عقل لري هغه په غيبت او پروپاګنډو باور نه کوي.
* سپيڅلی زړه د طلايي لوښي په شان کلک او بريالی دی.
* دروغ که په طلايي ليک وليکل شي، بيا هم دروغ دي.
* څوک چې په شک او ترديد کې دي د ارامۍ او نيکمرغۍ نه بې برخې دي.
* ستر سړي له درو شيانو نه ډډه کوي: په ځوانۍ کې له شهوت څخه، په پاخه عمر کې له جنګ څخه او په زوړ والي کې له ځان غوښتنې څخه.
* څوک چې د خپلو هوسونو غوښتونکي دي، د بيړۍ په شان په طوفاني درياب کې لاهو شي.
* په دې مه خوریږه چې ولې لوړ مقام ته نه يې رسيدلی، په دې وخوریږه چې ولې دې د لوړ مقام لياقت نه دی پيدا کړئ.

لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي
ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود

## اخلاق، وجدان او سپېڅلتیا:

* ادب لګښت نه لري خو هر شی اخیستلی شي. (( لاوی متناجیو ))

***

* له علومو او صنایعو څخه زیات اخلاق ته اړ یو. (( سعد زغلول پشا ))

***

* څوک چې اخلاق و نه لري هغه انسان نه دی. (( شامغور ))

***

* لږ صبر وکړه چې زر نتیجې ته ورسیږې.

***

* که چیرې موږ خپلې کوچنۍ غلطۍ په ځان منو، مانا یې دا ده چې د سترو غلطیو څخه ځانونه ژغورو.

***

* قناعت هغه کیمیا ده چې هر شي ته ورولګیږي، هغه طلا کیږي. (( فرانکلن ))

* نیکي داسې شی دی چې ولسوال بې وسلې کوي. (( لارکوردر ))



لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادر مسعود

## اخلاق، وجدان او سپېڅلتیا:

* د رښتینی ایمان سره باید داسې اور موجود وي چې د بدګومانۍ چټل خلي، بوټي وسوځوي او په ایرو یې بدل کړي. (( فرانسیس بایکون ))

***

* اصیلتوب ستره نیکمرغي ده خو باید داسې ښه کړه وړه وکړو چې د اصلیت پوښتنې ته اړتیا نه وي. (( لابروير ))

***

* قار څرګند او تیریدونکی دی خو کینه تل تر تله او، ورانوونکی ده. ((لاربروير ))

* قار لومړی لیونتوب دی او، وروسته پښیمانتوب دی. (( منوچهر ))

***

* غوړه مالي او چاپلوسي د زړونو هغه چټلي ده چې زموږ ځان منو رامنځ ته کړې ده. (( لارو شغو کولر ))

***



لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادر مسعود

# اخلاق، وجدان او سپېڅلتیا:



* د یوه ځنډن ملت د اخلاقو سمول دومره مشکل دي لکه د خیږې لرګی چې رنګ کوې. (( پیتا ګور ))

***

* پاک او سپېڅلي عادتونه د نا لایقو او خرابو خلکو په راشه، درشه ناوړي کیږي. (( فلشیه ))

***

* غوړه مالي و یونکي او ، اوریدونکي دواړه بې لارې کوي.

***

* انساني اخلاق دومره نه دي کمزوري شوي چې د ښې ښوونې او روزنې له امله ښه نه شي. (( بایکون ))

***

* د غوړمالو او چاپلوسو خلکو ژوند په هغو کسانو پورې تړلی دی چې د چاپلوسۍ او غوړه مالۍ پیرودونکي دي. (( لافونتین ))

لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیر عبد القادر مسعود

# اخلاق، وجدان او سپېڅلتیا:



* د حکمت او انصاف لومړی ګام په خپل کمعقلتوب او بې کتې کړو، وړو باندې اقرار کول دي. (( شامغور ))

***

* هغه څوک چې په لومړی ځل نصیحت و نه مني، څه موده وروسته به پښیمانی په لوړه بیه واخلي. (( لرداوبری ))

***

* کله چې موږ په خپلو نیمګړتیاوو پوه شو او د سمون له پاره یې هڅې وکړو نو د پرمختګ له پاره مو لومړی ګام اوچت کړ.

***

* د کبر او ځان منني حس په ټولو کې یو ډول دی خو توپیر یې په څرګندولو کې دی.

* کله چې د نورو د ښو اخلاقو ستاینه کوو په حقیقت کې د خپلو لوړو احساساتو درناوی کوو. (( لارو شغورکولر ))

***

لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیر عبد القادر مسعود

## اخلاق، وجدان او سپیڅلتیا:

* د نیمګړتیاوو او عیبونو پیژندل ترهنرلیدلو ښه دی.(( دیل کارنګی ))

* د ښو اخلاقو څښتن د ټولنې روح دی.(( امرسون ))

***

* د اخلاقو معیار هر وخت یو ډول نه دی د اخلاقو معیارونه د اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو د اوښتون سره بدلون مومي، ډیرو شیانو ته مو چې پرون ټکې وهلې نن د کرکې په سترګه ورته ګورو او ملنډې پرې وهو.(( فتحی الرملی ))

***

* دمرستی او سخاوت ارزښت په زیاته ورکړه کې نه دی بلکې ارزښت یې د ورکړې په وخت کې دی.(( لابرویر ))

***

* زه هغو کسانو ته چې غواړي بریالي شي داسې وایم: په ځان کې دې ښه اخلاق وروزه !(( ابرهوبرد ))



لیکنه او ټولونه: میرزاعلم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود

## اخلاق، وجدان او سپیڅلتیا:

* په هر ځای کې ډیر خلک وینم چې په خپلو کارونو کې یې ماتی خوړلی ده، د ژوند په ډګر کې یې سر ټیټ دی او څیره یې د غم دوړو پټه کړې ده، د خلکو په منځ کې شرمنده دي او هر څوک په سپکه سترګه ورته ګوري، سبب یې دا دی چې دوی د ښو اخلاقو په قدر او ارزښت نه دي پوه شوي.(( ډاکتر ماردون ))

***

* هیڅوک مجبور نه دي چې په دې ستره نړۍ کې دې هرومرو عالم او پوه وي خو په ټولو خلکو دا فرض ده چې صادق او رښتیني وي.(( سربنجامن رودیارو ))

***

* د لوړ وجدان خاوندان د غره په شان دي، غره ته چې هر څومره ورنیږدې کیږې سترتوب او پایښت یې څرګندیږي.

***

* د سپیڅلتیا او صداقت استازی وجدان دی.



لیکنه او ټولونه: میرزاعلم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود

## اخلاق، وجدان او سپېڅلتیا:



* وجدان د انسان په شتو کې ستره پانګه ده.

***

* وجدان د خدای اواز دی او په هر سپېڅلي زړه کې څښتن تعالی وجدان پیدا کړی دی.

***

* د رښتیني وجدان خاوندان خپلې نیمګړتیاوې نه پټوي.

***

* د لوړ وجدان خاوندان د رښتینوالۍ پلویان دي.

***

* هغه خوند چې د وجدان په سوتره ګۍ کې دی په بل شي کې نه شته.

***

* د لوړ وجدان خاوندان هڅه کوي چې ټولنه د فضیلت، کرامت او کمال په لور بوزي.

لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود

## ځان مننه او کبر:



* روان شناسان په دې باور دي چې د انسانیت لومړی پړاو، ځان پیژندل دي.

((قاموس اخلاق))

* ځان منته د رښتیا او مشورې په وړاندې ولاړه ده.

((قاموس اخلاق))

* په خپل ځان ویاړ کول او تر نورو خلکو ځان زیات او لوړ ګڼل ستر کم عقلتوب دی.

((قاموس اخلاق))

* د ټولو بربادیو سر چینه کبر دی او د کبر سرچینه هم کم عقلتوب دی.

((قاموس اخلاق))

* که له ډېرو خلکو سره د کبر ناروغی نه وای، په ډېرو کوچنیو کارونو کې به بریالي شوي وای.

لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود

## ځان مننه او کبر:

* د نړۍ خلک ځیني هوښیاران دي، ځیني کم عقلان او ځیني لیونیان، دا ټول جنګونه او مخالفتونه ځکه دي چې نه ټول خلک لیونیان دي او نه ټول خلک هوښیاران.

***

* ځان مننه ځان وژنه ده.

***

* د کم عقل سړي عزت کول داسې دي لکه چې ترخه بوټي ته اوبه ورکوې، ترخه بوټي ته چې هر څومره اوبه ورکړې دومره ترخیږي. ((شیخ ابو سعید ))

***

* کبر او غرور په ټولو کې یو ډول دی خو توپیر یې په څرګندولو کې دی.

***

* څوک چې ټول ژوند د نورو سره لاس او ګریوان دی هغه کبرجن دی. ((قاموس اخلاق))



لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي
ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود

## پښتو متلونه :

* دکبر کاسه، نسکوره ده.
* کبرجن د خدای دښمن دی.
* د کبر اخیر زوال دی.
* کبر د ناپوهۍ او هلاکت پیل دی.
* د کبر سر ټیټ دی.
* کبر داسې خواږه دي چې اخیر خپل زیښبونکې وژني.
* خوار کبرجن د خدای دښمن دی.

***

## خوشحال خان ختک وایي:

نیستي هستي ده که ته پوهیږې
لویي پستي ده که ته پوهیږې
بده تر هر څه په دا جهان کې
خود پرستي ده که ته پوهیږې



لیکنه او ټولونه: میرزا علم حمیدي
ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود

# پوهنه او روزنه:

* د هغې ټولنې خلک د اخلاقو او انسان پالنې لوړو پوړيو ته رسيږي چې په خپل هيواد کې عمومي ښوونه او روزنه ولري. (( اخلاق روحي ))
* ښه روزنه د نيکمرغۍ او برياليتوب پړاو ته د رسيدو پيل دی.
((اخلاق روحي ))
* پوهنه او ښه اخلاق د بدن او وينو په شان دی، د ښو اخلاقو نه پرته پوهنه د هغه بدن په شان ده چې وينې نه لري او يا په بله وينا د ښو اخلاقو ژوند پوهنه ده او د پوهنې ارزښت ښه اخلاق دي. ((اخلاق روحي ))
* پوهنه مرغلرې دي او ښه اخلاق هنر دی. ((اخلاق روحي ))
* د جهل او بې عقلۍ څخه بل ستر مصيبت نه شته، يوازې پوهنه ده چې په ټولو ستونزو برياليۍ کيږي ، هر څوک کولای شي چې خپل غښتلتوب په پوهنه کې ولټوي. ((اخلاق روحي ))
* هغه ټولنه نيکمرغه ده چې کړه وړه يې د پوهنې او علم پر بنسټ ولاړ وي د خپلو پوهانو او عالمانو درناوې وکړي ځکه چې هر پوه او عالم د ګرانښت او درناوې وړ دي.



ليکنه او ټولونه: اروانښاد مرزا علم حميدي
ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود

# پوهنه او روزنه:

* پوهنه او روزنه د غوره اخلاقو لور ته لار پرانيزي.
* پوهنه او روزنه د لوړو اخلاقو سرچينه ده.
* پوهنه او روزنه د ښه اخلاقو لارښوونکې ده.
* پوهنه د انسان فکر بشپړ کوي.
* پوهنه او روزنه انسان ته د پرمختګ جرءت او قوت وربښي.
* په کمزورو ماغزو باندې ټولې بدبختۍ برى مومي او لوستي ماغزه په ټولو بدبختيو باندې برى مومي.
* پوهنه او روزنه د کبر او ځان منني سره نه پخلا کيږي.
* په نړۍ کې د پوهنې او علم په شان ګټوره خزانه نه شته



## پښتو متلونه:

* پوهنه تر سرو زرو زيات ارزښت لري.
* کوم کار چې توره نه شي کولای، قلم يې کولای شي.
* قلم د افکارو ترجمان دی.
* اول زده کړه، بيا کوژده کړه.

❁ ❁ ❁

ليکنه او ټولونه : اروانښاد مرزا علم حميدي
ترتيب کوونکی : انجنير عبدالقادر مسعود

## د درنو مشرانو، عالمانو او پوهانو ژورې خبرې

* پوهه د خلکو پیژندنه ده.
* ستر خلک لږې خبرې کوي او زيات عمل کوي.
* ربښتيا وايه او سم عمل کوه، وحشيان او ځنګليان به دې هم قدر وکړي.
* دا خوندونه ډېر ګټور دي: ساز او ميلمستيا، د دوستانو خير غوښتل او د پوهانو سره ناسته، ولاړه.
* ستر سړی له درو شيانو نه ډډه کوي: په ځوانۍ کې له شهوت څخه، په پاخه عمر کې له جنګ څخه، او په زوړ والی کې له ځان غوښتنې څخه.
* که پوهيږې په خپله خبره ټينګ ودرېږه، که نه پوهيږې ووايه چې نه پوهيږم دغه د پوهې ثبوت دی.
* څوک چې خپل ورور ته بربادي غواړي، هغه په زړه کې د اور لمبې غښتلې کوي.
* يو د خپلو ستايلو په فکر کې دی او بل د خپلو غوښتنو، لومړی د خپلې غلطۍ نه ډارېږي او دوهم د خلکو له غوسې نه.
* په دې مه خوږېږه چې ولې لوړ مقام ته نه يې رسيدلی، په دې وخوږېږه چې ولې دې د لوړ مقام لياقت نه دی پيدا کړی.
* په دې مه خپه کېږه چې ولې مشهور نه يې، په دې خپه شه چې ولې دې د شهرت وړتيا نه ده پيدا کړی.



ليکنه او ټولونه: اروانښاد مرزا علم حميدي

ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود

## د درنو مشرانو، عالمانو او پوهانو ژورې خبرې

* ستر سړی څلور صفتونه لري لکه: کميني، ادب، مهرباني او عدالت.
* کبر او کينه د زړو ښو صفتونو مخ توروي.
* ستر سړی هميشه آرام دی او کوچنی سړی هميشه نا کرار.
* څوک چې روغ او سليم عقل لري هغه په غيبت او پروپاګندو باور نه کوي.
* که غواړې چې ژوند وکړې په ځان کې دې ګرانښت او سپېڅلتيا پياوړې کړه ځکه چې کينه هميشني مرګ دی.
* ته خپلو ښيګڼو ته دوام ورکړه، نور به هم ښه شي ځکه د ښو خلکو بدن د باد او د بدو خلکو بدن د ونو په شان دی کله چې باد الوزي وانښه مجبور دي چې خپل سرونه ټيټ کړي.



ليکنه او ټولونه: اروانښاد مرزا علم حميدي

ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادر مسعود

## د درنو مشرانو، عالمانو او پوهانو ژورې خبرې د مور د درناوي او مقام په اړه:

* زما د ږیرې څه نا څه نیمایي ویښتان سپین شوي وو خو کله چې مور زما په اړه خبرې کولې، خلکو داسې فکر کاوه چې زوی یې کوچنی هلک دی چې د مور شیدې رودي. ((اناتول فرانس))

* مور آسماني فرشته ده چې خدای د لنډې مودې له پاره جسم ورکړې دی. ((دومیستر))

* د ماشوم ښه او بد کړه وړه ټول په مور پورې اړه لري. ((ناپلیون))

* اې مورې! تل تر تله به د یوه سپیڅلي او ځلیدونکي ستوري په شان په آسمان کې وې ((ایمرمان))

* یوازې مور گرانښت او نیکمرغي پیژني، په هغو خلکو مې ډیر زړه خوږیږي چې د مور په نیکمرغۍ نه پوهیږي. ((شامپسو))

* مور په یوه لاس زانگو، زنگوي او په بل لاس جهان ښوروي. ((ناپلیون))

* مور هغه آسماني فرشته ده چې په ډیره خوږه ژبه خپل ماشوم نازوي او په غیږ کې یې په مینه او محبت روزي.



لیکنه او ټولونه: اروانښاد مرزا علم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادر مسعود

## د درنو مشرانو، عالمانو او پوهانو ژورې خبرې د مور د درناوي او مقام په اړه:

* اې د مور گرانښته چې د ټولو محبتونو څخه سپیڅلې یې، زما ژبه ستا د لویۍ له ستایلو، نه عاجزه ده. ((و. هاوف))

* د هیواد، د ودانۍ او ترقۍ لپاره د نورو پریمانو شیانو تر څنگ تر ټولو زیات د سپیڅلو میندو پالنې او روزنې ته اړ یو. ((ناپلیون))

* د چا چې د ماشومانو د زانگو پړې په لاس کې دي، دوی د هغو کسانو په پرتله چې د حکومت واکې یې په لاس کې دي زیات گټور او اغیزمن دي. ((اسمایلز))

* گرانې مورې! کله چې د خپل ژوند د دفتر پاڼې د یادداښتونو په گوتو را اړوم او لیرې کیږم ستا نوم ښه وینم، آن داسې ځای ته رسیږم چې ستا له نوم پرته بل شی نه وینم.

* مور د ښتنوالۍ ښکارندوی ده، د هغې رضا د خدای رضا ده باید د خدای رضا تر لاسه کړو.

* زما د ږیرې څه نا څه نیمایي ویښتان سپین شوي وو خو کله چې مور زما په اړه خبرې کولې، خلکو داسې فکر کاوه چې زوی یې کوچنی هلک دی چې د مور شیدې رودي. ((اناتول فرانس))



لیکنه او ټولونه: اروانښاد مرزا علم حمیدي

ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادر مسعود